# جریده میـــزان

قــوه قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۸ کب ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۶ شعبان المعظم ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۷ فبروری ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۵۸)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې لخوا په غزني ولایت کې په دوو تنو قاتلینو باندې د قصاص الهي حکم تطبیق شو

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد:

قال الله تبارك وتعالی: وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يا أولي الألباب لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (البقرة: ۱۷۹)

ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ.

و ایضاً قال الله تعالی: وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِف فِي الْقَتْلِ ـ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا (۳۳) الاسراء

او څوك چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

د پنجشنبې په ورځ د غزني ولایت په مرکز کې په دوو تنو قاتلینو باندې د الله جل جلاله حکم (قصاص) تطبیق کړل شو.

دغه دوه تنه قاتلین چې د بېلا ـ بېلو پېښو له امله د قصاص حکم پرې صادر شوی و، شهرت يې په لاندې ډول سره دی:

لومړی قاتل سید جمال ولد سید محمود ولدیت سید رسول د میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالۍ، د لوړې کلي اصلي او فعلي اوسېدونکی و، چې مقتول امیر محمد ولد سلطان محمد ولدیت خیرمحمد یې، چې د میدان وردګ ولایت، سیدآباد ولسوالۍ، د لوړې کلي فعلي او اصلي اوسېدونکی و، په ۱۴۳۸ د ذوالحجې په ۱۰ مه نېټه په آله جارحه چاقو سره وژلی و.

دوهم قاتل ګل خان ولد شاه ولي ولدیت سید جمال، د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د سلیم چار دېوال کلي اصلي او فعلي اوسېدونکی و، چې مقتول محمد قسیم ولد نظر الدین ولدیت ملا عبدالرحیم چې د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د سلیم چار دېوال کلي اصلي او فعلي اوسېدونکی و په ۱۴۰۰/۱۰/۱۲ هـ ش نېټه په آله جارحه چاقو سره وژلی و.

دغه دواړه موضوعات د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو (ابتدائیې، مرافعې او تمیز) لخوا په بېل_بېل ډول په خورا دقیق او مکرر ډول وڅېړل شول، چې په پایله کې پرې د قصاص حکم صادر او تائید شو، وروسته دغه حکمونه د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله حضور ته د تائید لپاره وړاندې کړل شول. د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله لخوا هم د دغو موضوعاتو په اړه د وروستي احتیاط په منظور فوق العاده څېړنه وشوه، چې په نهایه کې په قاتلینو باندې د قصاص شرعي حکم د تطبیق امر ورکړل شو او د دغو حکمونو د تطبیق لپاره د هیواد سترې محکمې ته هدایت و شو، چې دغه د قصاص حکمونه د پنجشنبې په ورځ (د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۱۱ مه نېټه) د غزني ولایت په مرکز د علي لالا د کلي په فوټبال سټیډیم کې د هیواد والو په یوه مجموعه کې تطبیق کړي.

د قصاص د ترسره کېدو په موخه د هیواد د قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب په هدایت د سترې محکمې د مرکزي تمیز اړوند د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله درویش صاحب په مشرۍ، د جزا دېوان د مفتي مولوي عبدالحی (شاکر) او د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس مولوي عبدالرحیم راشد په ملتیا یو پلاوی لېږل شوی و.

په دې مراسمو کې د غزني ولایت د مرافعه محکمې رئیس مفتي عبدالرحمن عزیزي، د غزني ولایت د دېوان جزا رئیس مولوي محمد مبین الطاف، د غزني ولایت والي الحاج حافظ محمد امین عمري، د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې رئیس مولوي عبدالکریم حقاني، د غزني مرستیال والي مولوي رحیم الله محمود، د غزني ولایت د نظامي محکمې رئیس محترم الحاج مولوي سید آغا، ګڼ شمېر نورو مسؤلینو او په زیات تعداد عامو هیوادوالو ګډون کړی و.

د غونډې په پای کې په هیواد کې د سرتاسري امنیت د لا ټینګښت، د خلکو شرعي حقوقو ته د لا رسېدا او د اسلامي شریعت د لا ښه تطبیق لپاره دعاء وشوه او غونډه د قاتلینو په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبیق پای ته ورسېده

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۳**
**نېټه: ۱۴۴۵/۷/۳ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د زندانونو چارو د سمون اداري د پیشنهاد په توسط د ځیني اداري مشکلاتو په ذکر کولو سره غوښتنه کړې وه تر څو د محاکمو لخوا، بندي محبس ته د معرفي کولو، بندي قضائي مجلس ته د غوښتلو، د قابل رهائي بندیانو محبس ته د رسمي مکتوب په توسط خبر ورکولو او نورو اداري مواردو په اړه د زندانونو چارو د سمون ادرې سره اصولي همکاري وشي یاده موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۸/جمادی الأولی/۱۴۴۵ هـ ق ته وړاندې شوې وه په اړه یې د تصویب نمبر (۱۱) د اتمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت کړی و: (د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست دې د سجل توقیفي فورم د زندانونو چارو د سمون اداري څخه راوغواړي او د دوی غوښتنو ته په کتلو دې ترتیب جوړ کړي تر هغه وروسته دې موضوع د عالي شورا راروان مجلس ته وړاندې کړي.) د یاد هدایت مطابق د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست (د بندي په اړه معلوماتي فورم) ترتیب کړی چې یاد فورم د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مؤرخ ۱۴/جمادی الأولی/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۷/قوس/۱۴۰۲هـ ش کې مطرح شو په اړه یې د تصویب نمبر (۱۲) د یوولسمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا د بندي په اړه ترتیب شوی معلوماتي فورم د سترې محکمې د عالي شورا لخوا تائید دی ټولو محکمو ته دې په متحدالمآل شکل واستول شي تر څو د یاد فورم مطابق اجراآت تر سره شي البته د بندي عکس اخستل او پر یاد فورم لګول د اړوند محبس کار دی.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د هدایت مطابق د بندیانو په اړه معلوماتي فورم ددې متحدالمآل مل په یوه ورقه کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو ټول محاکم د خپلو مربوط بندیانو لپاره یاد فورم ترتیب او په دوسیه کې یې کښېږدي او یوه کاپي یې مربوطه محبس ته واستوي.

**د مظالمو او الحسبه قضاء:**
**(درېیمه برخه)**

دغه راز یو بل مطلب چې دغه امر تائیدوي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وسیله د صدقو د کارکوونکو محاسبه کول دي، په یو حدیث شریف کې چې ابوحمید ساعدي (رضی الله تعالی عنه) روایت کړی راغلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابن اللتبیه په نوم یو کس چې د اسد له قبیلې څخه و د بني سلیم پر صدقو ګومارلی و، کله چې هغه راغی محاسبه یې ورسره وکړه. د ابوهریره رضی الله تعالی عنه حدیث شریف پر الحسبه قضاء دلالت کوي، ابوهریره رضی الله تعالی عنه وایي چې د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم د یوه اندازه خوارکي توکو ترڅنګ تېرېده، کله یې چې په کې لاس د ننه کړ ګوتې یې لندې شوې وویل: اې د خوراک صاحبه دا څه شی دي؟ وویل: باران ورته رسېدلی، رسول صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ولې دې دغه د خوراک په سر نه دی ایښې ترڅو یې خلک ووینې؟ هر چا چې خیانت وکړ له ما څخه نه دی.

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## میدان وردګ ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

شنبه (۶/شعبان المعظم/ ۱۴۴۵هـ ق) نېټه د میدان وردګ ولایت په جلریز ولسوالۍ کې د دې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په حکم یوه متهم ته د زنا په تور چې فیصله يې مخکې قطعي شوې وه، په عام محضر کې ۲۰ دُرې تعزیري سزا ورکړل شوه.

یاد متهم ته د جلریز ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له لوري لس میاشتې تنفیذي بند او ۲۰ دُرې تعزیري سزا ټاکل شوې وه، چې له تنفیذي بند تېرولو وروسته پرې نن د ۲۰ دُرو تعزیري سزا حکم هم تطبیق شو.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالکریم (حقاني)، د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر مولوي الله نور (ناصح)، د یادې ولسوالۍ ولسوال مولوي محمدجان محمدي او امنیه قوماندان، علماء کرامو، شیوخو، متنفذینو، د نورو ادارو مسؤولینو او عامو خلکو ګډون درلود.

یاده غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د جلریز ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي وزیر احمد (ابوسعید) راغلو میلمنو ته ښه را غلاست ووایه او د شهیدانو په وینو د راغلي نظام په اړه يې هر اړخیزه وینا وکړه.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالکریم (حقاني) د غونډې ګډونوالو ته د حدودو او تعزیراتو د تطبیق د ګټو په اړه تفصیلي وینا وکړه وویل، د حدودو او تعزیراتو تطبیق او جاري کول د ټولنې د اصلاح او امن سبب ګرځي.

پر دې سربېره د جلریز ولسوال محترم مولوي محمدجان او نورو علماء کرامو هم په بېلا بېلو نورو موضوعاتو تفصیلي خبرې وکړې.

په دې غونډه کې عامو هېوادوالو د محاکمو په داسې کړنو خوښي څرګنده کړه او د الله تعالی شکر يې ادا کړ.

یاده غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## بالای هفت متهم در ولایت سرپل حکم جزای تعزیری تطبیق شد

امروز یکشنبه مؤرخ ۷ /۸ /۱۴۴۵ هـ ق به اساس هدایت رئیس محکمه مرافعه ولایت سرپل بالای (۷) تن از متهمین قضایای سرقت و بد اخلاقی حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دوسیه های متهمین ذکر شده در محکمه ابتدائیه شهری آن ولایت قطعی و مدت حبس شان تکمیل گردیده بود.

در گردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود، رئیس و مسؤولین محکمه ابتدائیه شهری، محکمه مرافعه، تعداد کثیری از مراجعین و اقارب محکومین حضور داشتند.

در ادامه جلسه قضایای محکومین به خوانش گرفته شد؛ سپس بالای (۲) تن از طبقه ذکور متهم بر سرقت، پنج تن که (۳) نفر از آنها زنان بودند بر اساس داشتن جرم بد اخلاقی جزای تعزیری داده شد.

گردهمایی ذکرشده با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د کابل ولایت د استالف او پغمان ولسوالیو ابتدائیه محاکمو ته نوي رئیسان معرفي شول

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۶مه نېټه د کابل ولایت د استالف ولسوالۍ ابتدائیه محکمې نوی رئیس محترم مولوي عبدالغفور (امین) او د پغمان ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې نوی رئیس محترم مولوي عبدالواحد (خیري) د کابل ولایت د مرافعه محکمې د تحریراتو د رئیس محترم مولوي عتیق الله (عمر) او د مدني دېوان د عمومي مدیر مولوي نور آغا (مدني) لخوا د یوې غونډې په ترځ کې د یادو محاکمو منسوبینو او کارکوونکو ته ور وپېژندل شول.

د کابل ولایت د استالف او پغمان ولسوالیو نوي رئیسان د بېلا بېلو غونډو په ترڅ کې چې د اړوند ولسوالیو د امربالمعروف مسؤولینو، د امنیتي چارو مسؤولینو، د حقوقو مدیریت مدیر او کارکوونکو په کې حضور درلود معرفي شول، په یادو غونډو کې د پخوانیو رئیسانو د خدمتونو ستاینه وشوه او نویو رئیسانو ته په چاروکې د بریالیتوب دعاء وشوه.

د استالف ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې نوي رئیس په افغانستان کې د اسلامي نظام د قائمېدو شکر ادا کړ، په نظام کې د کارمندانو تغیر او تبدیل یې یو اصل وباله او وویل، چې موږ د خپل امیر د امر تابع یو او هره دنده چې موږ ته وسپارل شي اطاعت یې کوو.

دغه راز د پغمان ولسوالۍ نوي رئیس ګډونوالو ته وویل، موږ ټول یو هدف لرو او هغه خلکو ته د اسلامي شریعت سره سم خدمت دی، نو باید په همغږۍ سره خپلې دندې ترسره کړو.

یاده غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست یوه څلورکسیز پلاوي د جنوب غرب زون د محاکمو د امنیتي قطعاتو له چارو څارنه وکړه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم د میاشتې له ۴مه نېټې څخه تر ۱۰مه نېټې پورې د قضائیه قوې د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند د تفتیش او کنټرول مدیریت څلورکسیز پلاوی د تفتیش او کنټرول عمومي مدیر مفتي عبدالرؤف عمري په مشرۍ د ملکي محاکمو د امنیتي او د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو له چارو لیدنه او څارنه وکړه.

د یاد ریاست د تفتیش او کنټرول مدیریت پلاوي په دې لیدنه کې د هرات، نیمروز، فراه او بادغیس ولایتونو د ملکي او نظامي محاکمو د امنیتي قطعاتو د مجاهدینو د تعیناتو، اداري او امنیتي چارو، د توقیف خونې امنیت تأمینولو، اکمال او توزیع، د پرسونل له حاضرۍ،۲۴ساعته نوکریوالۍ د تطبیق، د پېره دارۍ له ځایونو او نورو اړوند مواردو څخه کنټرول او څارنه وکړه.

دغه راز یاد پلاوي مجاهدینو ته د صورت او سیرت د اصلاح، پر نبوي سنتو د ځان برابرولو، په جماعت سره د لمانځه اداکولو او خپلو دندو ته د پاملرنې په برخه کې د لازمو لارښوونو او سپارښتنو تر څنګ مجاهدین د امنیتي چارو د لا ښه سمبال، له مراجعینو سره نېک چلند او د نبوي اخلاقو لرلو ته وهڅول، چې په یادو موضوعاتو کې اړوند مسؤولینو ته لارښوونې او سپارښتنې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د یاد پلاوي او د محاکمو د رئیسانو ترمنځ د همغږۍ، اتفاق او همکاریو د لا ټینګښت لپاره اړینې ناستې ترسره او مشورې شریکې شوې.

## جلسهٔ هماهنگی ارگان های عدلی و قضائی محکمهٔ مرافعهٔ بامیان دایر گردید

به تاریخ (۱ شعبان المعظم ۱۴۴۵ هـ ق) جلسهٔ هماهنگی ارگان های عدلی و قضائی ولایت بامیان با حضور داشت محترم الحاج مولوی عبدالله (سرحدی) والی ولایت بامیان، مولوی سید محمد (حنیف) قوماندان امنیه، مولوی محمد ابراهیم رئیس استخبارات، رؤسای محاکم ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ ابتدائیهٔ نظامی ولایات بامیان و دایکندی، رؤسای دواوین محکمهٔ مرافعه و شهری، نمایندگان ریاست زراعت و شاروالی جهت هماهنگی هر چه بیشتر رسیدگی به قضایای جزائی و حقوق در محکمهٔ مرافعهٔ بامیان تدویر گردید.

این جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس روی نحوه رسیدگی به قضایای جزائی موارد همچون گرفتاری مظنونین، عدم مداخله در صلاحیت های وظیفوی همدیگر، در نظر گرفتن حقوق شرعی مظنونین و متهمین، رعایت میعاد تعین شده در تحت نظارت داشتن و توقیف نمودن مظنونین، متهمین و سایر موارد دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در ادامهٔ جلسه مقام ولایت، قوماندانی امنیه، ریاست استخبارات، ریاست شاروالی، ریاست زراعت، محکمهٔ ابتدائیه شهری و نظامی پیشنهادات خویش را جهت هماهنگی بیشتر بین ارگان های عدلی و قضائی ارائیه نمود، از طرف اعضاء جلسه به مسؤولین مربوطه خویش هدایت مقتضی اتخاذ گردید.

در پایان جلسه رئیس محکمهٔ مرافعه به تمام مسؤولین ادارات که در جلسه اشتراک داشتند وعده سپرد که محاکم ولایت بامیان در چوکات احکام شرعي و قوانین نافذهٔ امارت اسلامی د راستای تأمین عدالت همکار بوده، از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نخواهند ورزید.

این جلسه با دعاء خیر اختتام یافت.

## ستره محکمه کې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست په هڅو د تېلو معیاري ټانک جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په اوومه نېټه ستره محکمه کې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست په هڅو د قضائیه قوې د مسؤولینو د نقلیه وسایطو لپاره د تېلو معیاري ټانک جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د تېلو د یاد ټانک د پرانیستې په موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم حاجي مولوي کریم الله (زاهد)، د مالي او حسابي چارو رئیس محترم ملامحمود آخند، د مالي چارو رئیس محترم سید مجیب الله (ځل) او نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

د تېلو ټانک په پرانیست غونډه کې د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم حاجي مولوي کریم الله (زاهد) صاحب وویل، دغه ټانک چې په عصري او معیاري سیستم مجهز دی، د سترې محکمې د مسؤولینو د نقلیه وسایطو د تېلو د اړتیا پوره کولو په موخه جوړ شو.

نوموړي زیاته کړه، د تېلو جوړ شوي ټانک کې د اور وژنې او اور لګېدنې د مخنیوي مجهز سیستم هم موجود دی ترڅو په راتلونکي کې د بیت المال د ضایع کېدو مخه نیول شوې وي.

دغه راز یاد د تېلو ټانک سره یو ځای د تېلو د اړوند منسوبینو لپاره مجهز دفتر او اتاق هم جوړ شوی دی.

د تېلو ټانک د پرانیستې په موخه جوړه شوې غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې ستره محکمه کې مخکې هم د تېلو پمپ موجود و، خو یاد ټانک غیر معیاري او د اور لګېدنې او نورو مشکلاتو خطر په کې موجود و.

## د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت د زندانونو چارو د سمون ریاست او توقیف خونو څخه لیدنه وکړه

په ۱ /۸ /۱۴۴۵ هـ ق نېټه د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالشکور (رشاد آخندزاده)، د ښاري محکمې رئیس مولوي امان الله (الحقاني) او د ښاري محکمې د امنیت عامه دېوان رئیس قاري سباوون د ننګرهار ولایت د زندانونو چارو له سمون ریاست او توقیف خونو څخه له نږدې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د مرافعه محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي د ننګرهار ولایت د زندانونو چارو سمون ریاست کې د بندیانو د ستونزو د حل او فصل په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې، د یاد ریاست د بېلا بېلو برخو یې څارنه وکړه، د خوراک له وضعیت، د زندانیانو د کلینک ودانۍ او توقیف خونې یې له نږدې وکتلې.

د لیدنې په دوام د مرافعه محکمې رئیس له یو شمېر زندانیانو سره د هغوی د وضعیت په اړه خبرې وکړې، د دوی د وضعیت په اړه یې پورته معلومات ترلاسه کړل.

د مرافعه محکمې رئیس وویل، د دې لیدنې موخه د زندانیانو د وضعیت معلومول، له زندانیانو سره د مسؤولینو چلند، د زندانیانو خوراک او د هغوی د دوسیو په تړاو معلومات ترلاسه کول وه.

د لیدنې په وروستیو کې د مرافعه محکمې رئیس مسؤولینو ته وویل، د دوسیو پر څېړلو به ټینګارکوئ، دلته به له زندانیانو سره هېڅ ډول غیر قانوني چلند نه کېږي او له بندیانو سره ښه سلوک او چلند کوئ.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۳۲۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۹۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۳۲۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۹۷) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۱۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۴۳) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۷۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شول، (۹۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۰۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۸) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۴۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شول، (۵۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۷) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم پنجشیر طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۶۱) دوسیه، به تعداد (۲۱۴) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت پنجشیر، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۸) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت پنجشیر به تعداد (۲۱۴) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بدخشان طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۵۵۸) دوسیه، به تعداد (۵۵۳) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۳۴۱) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۴۱) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۵۵۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۴۴۰) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۴۴۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۲۳/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۳/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۴۴۰) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۴۰۲) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۳۱) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۶۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۶) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۱۸۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۲۳) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۶۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۷۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۴۶) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۱۸۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۲۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۱۸۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۲۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۲۶) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۰) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۱۰۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوې، (۲۹) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۴۲) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۱۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوې، (۱۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**تجارتي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳) تجارتي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۲۹) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۲۲) دوسیه، به تعداد (۳۷۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۶) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۸) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۷۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۹۶) دوسیه، به تعداد (۵۸) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۲۲/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۴/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۵) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۲) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۵۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشتکې درې ځله چاپیږي

## محاکم تخار طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۷۵۰) دوسیه، به تعداد (۴۸۳) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۳۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۰۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۱۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۸۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۱۵۹) دوسیې حل او فصل کړې دي

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له (۱/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر (۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۱۵۹) دوسیې حل او فصل کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۵۸) حقوقي دوسیې حل کړې.

له دې جملې څخه (۳۳) دوسیې فیصله شوې او د (۲۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ښاري محکمې په یوه میاشت کې (۱۰۱) جزائي دوسیې حل کړې.

له دې جملې څخه (۸۳) دوسیې فیصله شوې او د (۱۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۳۸۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۷۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې، نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۳۸۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۷۴) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې (۳۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۷) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۱۹) دوسیه مکتوبي مستردې شوې، د (۳۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۴) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۷۴) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۴**
**نېټه: ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د ځینو محکمو استهدآآت رارسېدلي او یادونه یې کړې چې : د اسلامي امارت محکمو ته ډېر خلک مراجعه کوي او په اساس یې دوسیې ډېرې زیاتې شوې دي چې د موضوعاتو ځنډ د خلکو د نارضایتي او نا امیدۍ سبب شوی دی، ددغه مشکل یو سبب د قضائي او اداري کارونو عدم تسریع او د محاکمو د ځینو منسوبینو لخوا د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست متحدالمآل نمبر (۲۷) مؤرخ ۱۴۴۴/۳/۲۴هـ ق ته عدم التفات دی چې د یاد متحدالمآل متن داسې دی: (د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو او د سترې محکمې مربوط ریاستونو ټول کارکوونکي خصوصاً قضائي اعضاء مکلف دي چې د خپل مسؤولیت په نږدې ساحه کې د کور ترتیب برابر کړي تر څو په دغه ترتیب سره د خلکو د موضوعاتو د حل او فصل د ځنډ مخنیوی وسي...)، او بل دا چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست په متحدالمآل نمبر (۱۸) مؤرخ ۱۴۴۵/۴/۲۴هـ ق کې ذکر شوې رخصتۍ بې ضرورته له حده زیاتې شوې دي چې کارونه یې د ځنډ سره مخ کړي دي.

پورته ذکر شوې موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۲۷/رجب المرجب/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۹/دلو/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شوه په اړه یې د تصویب نمبر (۲۸) د درېمې پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۸) مؤرخ ۱۴۴۵/۴/۲۴هـ ق مطابق دې د رخصتۍ ترتیب عملي شي او د یاد متحدالمآل په آخیر کې په یادونه کې چې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲۷) مؤرخ ۱۴۴۴/۳/۲۴هـ ق د عملي کولو هدایت شوی، یاد هدایت ته دې پوره توجه وشي.

البته د محاکمو کومو منسوبینو ته چې رخصتي ورکول شوه او د درو ورځو څخه یې رخصتي زیاته وه د درو ورځو څخه ماسوا د نورو ورځو معاش دې ورڅخه په اصولي طریقه وګرځول شي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۵**
**نېټه: ۲/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د سترې محکمې د محترم مقام د دفتر ریاست مکتوب نمبر (۱۷۳۴بر۶۶۷) مؤرخ ۱۴۴۵/۷/۲۴هـ ق مل د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د امنیتي چارو ستر معینیت مکتوب نمبر (۹۵۲بر۷۴۹) مؤرخ ۱۴۴۵/۷/۳هـ ق رارسېدلی چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:


لکه څرنګه چې له بهرنیو هیوادونو څخه د مجرمینو استرداد د هیواد د عدلي او قضائي ارګانونو په هدایت د نړیوالو پولیسو انټرپول ریاست له دندو څخه دی، کله چې یاد ریاست د محاکمو لخوا د ترتیب شویو اسنادو او مدارکو په اساس له بهرنیو هیوادونو څخه د پورته ذکر شویو اشخاصو د استرداد غوښتنه کوي، د استرداد د فورم مطابق یې کوي.

نو په دې اساس یې د سترې محکمې څخه غوښتنه کړې تر څو ټولو محاکمو ته د نوموړي فورم یوه نمونه واستول شي او د اړونده محاکمو لخوا د انټرپول ریاست لخوا د مجرمینو د استرداد د غوښتنې په صورت کې د نورو اسنادو او مدارکو تر څنګ د استرداد فورم هم ټاپه او ولیږل شي.

د استرداد د پورته ذکر شوي فورم په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام په لاندې ډول هدایت کړی دی:

((په مکتوب کې مندرج محتویات ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوئ تر څو په آینده کې ټول محاکم د استرداد فورم او ورسره اسناد ټاپه کړي.))

بناءً د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدایت په اساس د استرداد د فورم نمونه ددې متحدالمآل مل د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې تر سره شي.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳